# په کابل کې د ترسره شوي ځانو ژونکي برید په اړه
# د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمېسیون مطبوعاتي اعلامیه

دافغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون په کابل کې د تیرې سه شنبې د ورځې(۱۳۸۹/۲/۲۸) برید چې له امله یې په لسګونو کسانو ته مرګ ژوبله واوښته په کلکه غندي.
د استوګنې له ځایویونو او ملکي سیمو څخه د پوځي او سیاسي موخو له پاره د عملیاتو او ځانمرګو بریدونو تر سره کول د ملکي خلکو ژوند او مال ته د نه درناوي ښودنه کوي چې د ټولو دیني لارښوونو، نړیوالو معیارونو او زموږ په ټولنه کې دمنلو ارزښتونو خلاف کار دی.
دافغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون د طالبانو ددغه ناانساني کړنې دکلکي غندني او اغیزمنو خلکو سره د همدردئ تر څنګ له اړوندو دولتي بنسټونو څخه غواړي چې دملکي خلکو د امنیت او ژوند د خوندي کولو له پاره دې ددغه شان پېښنو دمخنیوي په موخه وار د مخه اغیزمني لارې چارې ولټوي او د دغه وضعیت په اړه دې په بیړنۍ توګه دزیانمن شویو خلکو له پاره لازم اقدامات ترسره کړي.

دافغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون
کابل ۱۳۸۹/۲/۳۰